PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي يئ تر څو چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونيزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

شهادت پنځم کال، ۷ مه گڼه، پرله پسې ۲۰۲ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د غويي ۱۸ مه د۱۴۳۴ هـ ق د جمادی الثانی ۲۸ مه د۲۰۱۳ م د مې ۸ مه

درس قرآن

او ای انسانه! ته نه گوری چې الله پاک د ځمکې ټول څیزونه درته تابع کړي. او هغه کښتی هم چې د الله په حکم په بحر کې چلېږي. او اسمان يې ټينگ نيولی چې دهغه له اجازی پرته په ځمکه رانپرېوزي بې له شکه الله پاک په خلکو ډېر مهربان او ډېر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې يې ژوندي کړئ بيا مو مړه کوي او بيا مو بېرته راژوندي کوي. رښتيا هم چې انسان ډېر ناشکره دی. (سورة الحج: ٦٥ - ٦٦ آيتونه)

درس حديث

انس رضی الله عنه می گويد: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمود:
به برادرت چه ظالم باشد و چه مظلوم، کمک کن. اصحاب گفتند: ای رسول خدا! کمک به مظلوم، روشن است ولی چگونه به ظالم کمک کنیم؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمود: دست او را بگیرید و از ظلم کردن، باز دارید. (رياض الصالحين)

مشرانو جرگه:

د ماليې وزير بايد کره اسناد وړاندې کړي

د ماليې وزير حضرت عمر زاخيلوال د دوشنبې په ورځ خبريالانو ته وويل چې د ملي شورا يوه وړه کړۍ د مخدرو موادو په قاچاق کې لاس لري او پر ده يې په نا حقه فشارونه زيات کړي دي.

کابل، رسنۍ:
د مشرانو جرگې يو شمېر غړي وايي، چې د ماليې وزير بايد د خپلو هغو څرگندونو په اړه شواهد وړاندې کړي، چې وايي د ملي شورا يو شمېر غړي د مخدرو موادو په قاچاق او فساد کې ښکيل دي.
د دې جرگې يوشمېر غړو د سې شنبې په ورځ په عمومي غونډه کې وويل چې د څينو وزيرانو لخوا پوازې په تورونو بايد د ملی شورا غړي رنگ بدي نشي.
د ماليې وزير حضرت عمر زاخيلوال د دوشنبې په ورځ خبريالانو ته وويل چې د ملي شورا يوه وړه کړۍ د مخدرو موادو په قاچاق کې لاس لري او پر ده يې په نا حقه فشارونه زيات کړی دي.
د ماليې د وزير ورروستی څرگندونې چې ويلې يې دي د ملی شورا يوشمير غړي په فساد

پاتې ۴ مخ

فاروق وردک:

شاگردانی که بی مورد ادعای مسمومیت کنند، مجازات می شوند

در جریان سه سال گذشته از مسمومیت ۲۷۰۰ شاگرد درولایت های مختلف کشور گزارش شده است.

کابل، رسانه ها:
وزیر معارف افغانستان هشدار می دهد که آن عده از شاگردان و معلمین را مجازات خواهند کرد که بی مورد ادعای مسمومیت شاگردان مکاتب را می کنند.
وزارت معارف افغانستان می گوید که تا حال در خون تعدادی از شاگردان که ادعا می شود طی سال های اخیر مسموم شده اند، ماده یی سمی و زهری مشاهده نشده است.
به گفته مقام های این وزارت در جریان سه سال گذشته از مسمومیت ۲۷۰۰ شاگرد در ولایتهای مختلف کشور گزارش شده است.
اما داکتر غلام فاروق وردک وزیر معارف این کار را یک عمل مصنوعی می خواند.
وی گفت افرادی که بی مورد ادعای مسمومیت در میان شاگردان مکاتب را در افغانستان می کنند، به کیفر اعمال شان خواهند رسید:
"وزارت صحت عامه سمبل خون از این را به تمام شفاخانه های افغانستان و جهان فرستاده و هیچ نوع ماده یی سمی و زهری را کشف نکرده است.

بقیه درصفحه ۴

ولسمشر وايي لوېديځ د ترهگرۍ په جگړه کې ناکامه تگلاره خپله کړه

د افغان ولسمشر په وينا طالبان دومره خواکمن هم نه دي، چې د هېواد د پرمختگ روان بهير ودروي.

کابل، رسنۍ:
افغان ولسمشرر حامد کرزي ويلي دي چې د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو او بهرنيو ځواکونو د وتلو په درشل کې به بيا هم د دغه هېواد د پرمختگ پر لاره لوی گواښ ترهگري وي چې په وينا يې اورپکي به د پولې له ها خوا ياني پاکستانه را اوړي چاودنې به کوي او نا امني به خپروي.
له ارگه د خپرې شوې خبر پاڼې له مخه افغان ولسمشر ويلې چې لوېديځ، ترهگرۍ ضد جگړه کې د ترهگرو خوندي ځالو او د انگيزې لاملونو ته پام و نه کړ، او د افغانستان په کليو کې وجنگېدل.
ښاغلي کرزي د جوړجاړي بهير ته هيله ښوولې خو ويلي دي چې پرته له جوجاړي به هم د افغانستان پرمختگونه روان وي خو له ننگونو سره به مله وي.

پاتې ۴ مخ

د حزب اسلامي افغانستان اعلاميه

حزب اسلامي دگوشتې ولسوالۍ په حدودو کې دپاکستان ښکاره نظامی تيری په کلکه غندي اودنولو بين المللی اصولو مخالف يې گڼي.
په سيمه کې د هند کبير (برصغير) د حاکميت په دوران کی هم له گندهاپ نه تر گوسري پوری د هغه وخت حکومت تسلط او حاکميت نه درلود چې هغه وخت لا پاکستان تولد شوی هم نه وه.
د پاکستان د تولد تر ۶۰ کالو پورې هم پدی علاقه پاکستانی حکومت هيڅ ډول دخل او تصرف نه درلوده دا خو لرې خبره وه چه د پاکستان عسکر دې د گوشتی ولسوالی تر سرحدونو راورسيږي. دخاپښ نه ترگوشتې پورې دا سيمه چې اوس پاکستانی فوځونواشغال کړې دافغانستان خاوره ده اوپدې خاوره د مهمندو د لوی قوم مختلف خيلونه اوبرگنی. اوسيږی چه زياتره يې خويزی او بايزی دی دا خلک ټول د افغانستان تابعت لری او د کامی، گوشتی او لعلپوری په ولسواليو کی ځمکی او کورونه لری.
د طالبانو د حاکميت په دوران کی هم طالب حکامو د افغانستان بيرغ د خاپښ په گنډو ودرولی وو چې هغه مهال پدې سيمه کې د پاکستانی فوځ يو عسکر هم نه ترسترگو کيده چې دا بيرغ راکوز کړی. نو چې تاريخی سوابق د هند او پاکستان د جوړيدو وروسته هم داډول وو نو اوس څه باعث شو چه پاکستانی فوځونه دلته راځي اونظامي مراکز جوړوي. خو لدې کړنو داسې ښکاري چې د دی قضيې ترشا د استعماري قوتونو پټ لاسونه موجود دي. استعماري کړی غواړي په منطقه کې د کړکيچ په دوام خپلو شومو استخباراتي اهدافو ته تحقق ورکړي او له بل لوري پاکستان هم خوشحاله کړي.
حزب اسلامي افغانستان دپاکستان دا بې شرمانه تيرې او د استعماري قوتونو داډول شوم پلانونه په کلکه غندي اودخپلې خاورې او حريم نه دفاع دافغانانو مسلم حق گڼي.

پيروزی افغانها در جنگ های نابرابر

(نورن غلام سخی) - صفحه دوم

صدراعظم ترکیه:

حملات اسراییل بر سوریه قابل قبول نیست

ترکیه، رسانه ها:
صدر اعظم ترکیه رجب طیب اردوغان حملات هوایی اسراییل را بر سوریه قبول ناپذیر خواند.
در صحبت با اعضای پارلمان این کشور آقای اردوغان دیروز گفت: هیچ بهانه نمی تواند این عملیات را توجیه کند.
صدراعظم ترکیه که یکی از تنقید کنندگان حکومت بشار الاسد در سوریه می باشد، اظهار داشت این عمل به رهبری سوریه امکان می دهد که بر قتل عام مخالفین خود پرده بیاندازد.

بقیه درصفحه ۴

تاريخ سازه سيمه او سپين ستر گې گاونډي

عبدالله کامه وال

له تيرې اونی راهيسې دهېواد په شرقي برخه کې اور بل دی او يو مسلمان گاونډي مو دنورو ډيرو سپين سترگيو او مداخلو سره سره بالآخره پر خاوره هم راوختو او زمونږ په پاکه خاوره يې ديوال او دروازه جوړه کړه. دا دروازه او ديوال دننگرهار ولايت په گوشتې ولسوالی کې جوړه شوې.

پاتې دريم مخ

موریتس آر یوخامس:

گروها را تشویق می کنیم که با هم صحبت و مذاکره نمایند

کابل، رسانه ها:
در حالی که درگیری های اخیر مرزی میان افغانستان و پاکستان، روابط کابل و اسلام آباد را تیره ساخته اما یک مقام ملکی ناتو بر نقش موثر اسلام آباد در تلاش های صلح این کشور تاکید می کند. در عین حال این مقام ناتو می گوید که آنان نیز حاضر اند تا در حمایت از این پروسه، زمینه امنیت را برای گفتگوهای صلح میان طرف های درگیری مساعد بسازند.
موریتس آر یوخامس به روز سه شنبه در یک مصاحبه اختصاصی با رادیو آزادی گفت که جامعه جهانی به این باور اند که باید رهبری این گفتگوها از سوی افغان ها به پیش برده شود. اما وی تاکید کرد که ناتو و جامعه جهانی نیز می تواند...

بقیه درصفحه ۴

قاچاقبران اکثراً دربیرون از کشور زندگی میکنند

تالقان، پژواک:
وزارت داخله میگوید که اکثراوقات، حامیان شبکه های بزرگ قاچاق موادمخدر درخارج ازکشور زندگی میکنند و ازآنجابصورت غیرمستقیم درداخل افغانستان فعالیت دارند.
لوی پاسوال باز محمد احمدی معین مبارزه با مواد مخدر وزارت امور داخله، با ذکر مطلب فوق گفت که آنها امسال تلاش دارند تا باندها وقاچاقبران حرفوی مواد مخدر را درکشور به ویژه زون شمال شناسایی و بازداشت نمایند. ...

بقیه درصفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د افغانستان د شاه زلمو ترڅنګ دې چارواکي هم د خپلو خواهشاتو قرباني ورکړي

د خيوې اوسيدونکی شهيد محمد قاسم د سرحدي ځواکونو هغه اتل او قهرمان شهيد دی چې د خپلې خاورې د دفاع په لاره کې د ژوند تر اخرنيو سلګيو پورې په پوره ميړانه وجنګيد او د شهادت لوړ مقام يې ترلاسه کړ.

د افغانستان مجاهد او غيرتي ولس هم د شهيد محمد قاسم د ميړانې، وطن دوستي او خداپرستی ددغې اوچتې جذبې ډېره قدرداني وکړه او دهغه په نقش قدم باندې د تللو ژمنه وکړه.

په دې کې هيڅ شک نشته چې د افغانستان د مسلمان ولس تاريخ له اتلوليو، قهرمانيو او شجاعتونو څخه ډک دی. دغه قهرمان ولس کله هم د خپلې خاورې، عقيدې او اسلامي فرهنګ د دفاع په لاره کې له سستي او غفلت څخه کار نه دی اخيستې، د جګړې په ډګرونو کې چې افغانانو تراوسه کومې معجزې او کارنامې پرېښې دا د تاريخ هغه حيرانوونکی کيسې دي چې لوستونکی ورته ګوته په غاښ پاتې کېږي.

د افغانستان خاوره د زرګونو په شمېره کې نه، بلکې د لکونو او مليونونو په تعداد کې اتل شهيدان لري او هر يو خپل شاته نه هېرېدونکي تاريخي کارنامې پرېښې دي چې په لوستو يې د هر غيرتي افغان ايمان وربانديې تازه کېږي.

زموږ د افغانستان مسلمان ولس د قهرماني او اتلولي په ډګر کې له بل هر چا زيات غني فرهنګ لري خو لدې واقعيت نه هم انکار نشي کيدلې چې يوازې دغه کارنامه د هېواد ستونزې نشي حلولې بلکې ددې ترڅنګ ښه حکومت، ښه اداره او ښه نظم هم خورا ضروري دی، موږ پخپله ياد کې د ظاهرشاه له حکومت نه نيولې تر اوسني حکومت پورې داسې ايمانداره، ديانتداره، له هېواد سره مينه لروونکي، مخلص او زړه سواندي چارواکي په دې هېواد کې نه دي راغلي چې د خپل غيرتي ولس له اوچتو جذباتو، نيکو هيلو او د قرباني له احساساتو څخه مثبته ګټه پورته کړې وای، که ولس څومره غيرتي او با همته شي او څومره مخلص او زيارکښ شي خو چې چارواکي بې احساسه، ويده او غافل وي، ايله خپل ځانونه او اقتدار يې يادوي، د بيت المال د چورولو او تالا کولو په مسابقه کې اخته وي، فضول خرچه اواسراف کوونکي وي، دتعليم پوهې، هنر اوصنعت له ګټو نه ناخبره وي، په هېواد کې دجهالت، رشوت، توکم پالنې، اداري فساد او اقربا پروری توره فضا حاکمه وي نو بيا يواځې د ولس شجاعت او قهرماني د هېواد د ټولو دردونو علاج نشي کولې.

چارواکو په دې هېواد کې ټول عمر د ولس د قهرمانيو جشن خو نيولې، او دهغوی قربانيو ته د عقيدت ګلونه خو يې وړاندې کړي دي مګر کله هم د خپلو ناروا نفساني خواهشات قرباني يې نه دی ورکړې او کله هم دېته نه دي متوجه شوي چې آخر دا هېواد پر دوی هم حق لري چې لږ تر لږه بايد بيت المال د خپلو عياشيو لپاره مصرف نه کړي او په ادارو کې له پراخې درغلی او فساد څخه لاس په سر شي. د چارواکو مسؤوليت يواځې دا نه دی چې د ولس پر قربانيو او شجاعتونو بريتونه تاو کړي او دهغوی د قهرمانيو په ستايلو سره خپل ځانونه محب وطن وښيئ، بلکې د چارواکو اصلي مسؤوليت او دنده داده چې د خپل ولس له ټولو اړتياو څخه ځانونه خبر کړي او دهغوی د ښه خدمت او آسانتياو د برابرولو لپاره شپه ورځ په ځان يوه کړي.

نننی عصر د توري او ډال عصر نه دی چې افغانان هر چېرته په مخامخه جګړه کې د خپل تورزنې بې سارې جرئت ښکاره کړي، بلکې نننی عصر د توغنديو، ليری ويشتونکو ميزايلو، ډول ډول الوتکو او پرمختلليو وسلو عصر دی چې د جګړې په ډګر کې پريکنده رول لري او بالاخر هغه څوک ګټونکی کېږي چې پوخ يې په دغو نويو وسلو مجهز کړی وي، خو موږ افغانان د علم او ټيکنالوژي په ميدان کې تش لاسې يو. له چارواکو نه پوښتنه کېږي چې آخر تر څو به افغانان په تشو لاسونو د لکونو ککريو په قربانولو سره د خاورې دفاع کوي او دومره سرونه به له کوم ځايه کوي چې په مسلسل ډول د مدرنو او هلاکوونکو وسلو په وړاندې پيش کړي؟!
د باروت او غوښې ترمنځ په جګړه کې هيڅ امکان نشته چې غوښه باروت ته ماته ورکړي بلکې د باروتو دفاع په باروتو او د اوسپنې دفاع په اوسپنې سره کېږي، چېرته باروت او چېرته غوښه؟ لدې کبله په اوسني عصر کې د ساينس او ټکنالوژي ترڅنګ د ژوند په ټولو په ډګرونو کې پرمختګ کول د يو قوم د بقا لومړنی ضرورت دی او دا ضرورت هله پوره کيدلې شي چې چارواکی د خپل هېواد او ولس له خدمت نه سرشاره وي او د بيت المال يوه يوه روپۍ په ډېر احتياط سره مصرف کړي، نه دا چې صرف خپل ځانونه يې په ياد وي او هر څه له خپلو ځانو نه قربان کړ.

پیروزی افغانها در جنگ های نابرابر

تورن غلام سخی

از آنجائیکه افغانها در شهامت و دلاوری در طول تاریخ شهرت جهانی دارند، مردمانی هستند که همیشه برای حفظ اعتقادات دینی و حراست از حریم سرزمین شان در برابر هر فاتح و جهانگشا مردانه رزمیده و افتخارات جاودانه را کسب نموده اند، این مقاومت و دشمن شکنی محصول اراده قاطع، بااحساس، خستگی ناپذیر و ایمان کامل به فتح در آینده جنگ بوده است، گرچه افغانها جنگ را فاجعه میدانند که حیات و تمدن بشری را نابود میسازد، ولی دفاع در برابر تجاوز و جنگ را حق مشروع خود و از همه انسانهای کره زمین میخوانند، زمانیکه دولت ها تشکیل دارای قلمرو، اتباع و حکومت می شوند، برای دفاع از مال، ناموس و وطن مجبورند که به فاجعه جنگ تن بدهند و خسارات جانی و مالی آنرا تحمل کنند. ما شاهد (۱۴۰۰۰) جنگ در طول تاریخ هستیم، کره زمین در طول عمر خویش فقط توانسته است که دو قرن لذت صلح و آرامش را چشیده است، گاهی در یک گوشه و گاهی در کناره دیگری حتماً جنگ وجود داشته است، عموماً جنگ ها دو حالت دارند، یا جنگ های تهاجمی و سرکوب کننده اند، و یا تدافعی و پیشگیرانه و یا جواب تهاجم که بواسطه قوتهای اشغالگر و قوی بالای کشورهای ضعیف تحمیل میگردد، جنگ ها عموماً بخاطر بدست آوردن سرزمین و اهداف اقتصادی، منابع طبعی (نفت، معادن زیرزمینی، ابحار) و یا غارت همه دارایی ها و سرمایه های یک کشور صورت میگیرد که ما استعمار کهن و استعمار جدید را در حیات تمدن بشری مثال آورده میتوانیم.

از تاریخ بیاد داریم، زمانیکه یک کشور از نگاه اقتصادی و فرهنگی قوی و نیرومند و بر منابع تولید و سرمایه حاکمیت حاصل نمود صاحب کارخانه ها و محصولات تولیدی وغیره گردیده مجبور اند که برای این کالا و محصولات بازار فروش جستجو کنند، برای بدست آوردن بازارهای اقتصادی و فروش اموال تولیدی و صدور کالاها به غارت سرزمین ها آغاز می کنند، همان است کشورهای که دست به جنگ های غیرعادلانه و تهاجمی میزنند، در مقابل دولت های که ضعیف و توان اقتصادی ندارد، مجبور اند سرتسلیم خم کنند و همچنان جنگ هائیکه بخاطر تحمیل اندیشه، دین و مذهب بالای انسانها صورت گرفته است، همه این جنگها غیرعادلانه و نامشروع بوده و قطعاً در برابر این ها مقاومت و پایمردی صورت گرفته است که بالاخره قدرت های بزرگی که شکست و اضمحلال آنها متصور نبوده در نتیجه، مقاومت شجاعانه و مردمی به شکست مفتضحانه و غیر قابل پیشبینی دچار گردیدند. ما این مدعا را میتوانیم در سرزمین تاریخی خویش افغانستان ثابت نمائیم، افغانها با شجاعت، شهامت و مردانگی خاص که خداوند نصیب شان نموده ثابت نموده اند که دشمنان تا بدندان مسلح را با مقاومت مردمی و تکتیکی بزانو درآورده فتح و پیروزی را قرار گرفته اند در فرجام جنگ بدست میآورند و همیشه با جنگ های غیر عادلانه و نابرابر مقابل شده اند.

افغانها اگر فتوحات داشته اند، با سپاه بسیار محدود در برابر لشکریان قوی و صدها مرتبه بیشتر ولی با عزم قوی و اتکا به خدا و اراده مردم شان توانسته اند که برای دشمن غارتگر و اشغال گر جواب دندان شکن و عبرت انگیز بدهند. فتوحات سلطان غزنه و احمدشاه کبیر را در برابر مراهته هند و بدست آوردن غنایم و فتح سومنات و پانی پت که نمایانگر مثال بارز و قضاوت خوب ماست. شکست لشکریان چنگیز، تیمور، نمونه و دیگر از اراده قوی، شجاعت و دلاوری مردم ما میباشد. همچنان جنگ های نابرابر و تحمیلی افغان و انگلیس که زمانی انگلیسی ها خود را آفتاب غروب ناپذیر در جهان میدانستندو در تمام شبه قاره هند که پاکستان هم جز آن بود حکومت میراندند ولی زمانیکه به این سرزمین دشمن ستیز و کفرشکن پاه نهادند، بجز شکست و فرار راهی نیافتند، همینطور روسهای مارکیست که میخواستند با عبور از این سرزمین به آبهای گرم و حوزه های شرق میانه برسند، همه در جنگهای نابرابر و تحمیلی از طرف افغانهای سلحشور و قهرمان بزانو درآمدند. و با تمام فلسفه و حکمت و حیله و نیرنگ و پلان شان به گورستان ابدی تاریخ دفن شدند. هر شخصی و یا حکومتی که خیال تسخیر این سرزمین اعجازگر را که معجزانه دشمن را شکست میدهد، داشته باشد، در رجام بجز فرار و رسوایی سودی نخواهند داشت، دوستان و دشمنان باید بدانند که این سرزمین مردخیز را تجزیه و تسخیر نخواهند توانست.

که د حکومت او خلکو دا حال وي نو سمون به څوک راولي؟!

عمر خليل

د تيرې يکشنبې په ورځ چې د لغمان له اډې نه د مرسډيز ګاډي ووت او کابل په لوری روان شو نو ډريور د خپل ګاډي د محصول ورکولو لپاره مخامخ دفتر ته ورغی، د سلو لوټ له ورکولو وروسته چې راغی او شترنګ ته کيناست سمدلاسه د ترافيکو يو افسر مخې ته يې ودريد او پنځوس روپۍ يې ترينه واخيستې. ډريور ته مې وويل: تا خو په هغه مخامخ دفتر کې سل روپۍ ورکړی وی، ترافيک ته دې ولې د پنځوسو لوټ ورکړ؟ ويې ويل: دلته وچه بدمعاشي چلېږي په زوره راته اخلي، که ورنکړم نو بيا راته بهانې ګوري او فوراً راته وايي چې سورلی دې ګرانه کښېنولی ده، موږ ۲۵۰ افغاني اخلو، ما وويل ښه نو په ګناه کې ټول شريک يئ. ډريوران له موږ نه څرمن وباسي او ترافيکان له تاسو نه، ای خدايا! دا به څه کېږي او تر څو به دا ظلم روان وي.

ډريور راته وويل هغه د سلو لوټ چې ما په دفتر کې ورکړه دهغه رسيد هم مانه رانکړه او پخپل جيب کې يې واچولې. ما ورته وويل: تاسې ترينه رسيد ولې ونه غوښت؟ دا خو له خپل ولس او هېواد سره خيانت دی، دغه پيسې ددې پرځای چې بيت المال ته لاړ شي او د هېواد د ترقی او پرمختګ لپاره وکارول شي شخصي جيبونو ته ورځي. ډريور راته وويل: ته ښه ساده يې. خلک د هېواد او ولس په غم کې نه دي هر څوک خپل ځان او خپل کور جوړوي، ورته مې وويل: که هېواد جوړ نشي نو زما او ستا کور به هم نه جوړېږي، که موږ ټول د هېواد مجموعي ګټې په نظر کې نه نيسو او صرف د خپلې ګيډې غم کوو نو دا ګډ کور افغانستان به خامخا له لاسه ورکوو، نه به مو کور پاتې کېږي او نه هېواد، هر څه به له لاسه ورکوو، هغه وويل: که حکومت يې غمه نه خوري زه او ته څه وکړو؟ د رشوت ټولې اډې حکومت جوړې کړي دي، ما ورته وويل: دومره خو کولې شو چې ورسره په ګناه کې شريک نه شوو، که زه او ته ترافيک ته رشوت ور نه کړو او هر کار د قانون په چوکاټ کې ترسره کړو نو ترافيک به له موږ نه څنګه رشوت واخلي؟!

هغه راته وويل: که رشوت ورنه کړم سبا ته به په همدې اډه کې خوله راباندې ماتوي، موږ د حکومت د زوره نه يو، حکومت چې اصلاحات راته ولې، ولس يې نه شي راوستلې، له هغوی سره قانون او زولنې دي، اقتدار او قوت دی خو موږ هيڅ نه لرو، لدينه همدا ښه ده چې په چوپه خوله واوسو، ما ورته وويل: تاسې له والي سره وګورئ او په سرکونو مظاهرې وکړئ چې ترافيکان له موږ سره ظلم کوي، هغه وويل: ترافيک په دې رشوت کې له بره نه شريک دي او هر يوه خپله برخه اخلي، څو ځلې مو مظاهرې وکړې او څو څو کرته مو له لوړ پوړو چارواکو سره وکتل، خو هيڅ نتيجه يې ورنکړه، څو ورځې پس د لغمان ولايت په بره اډه کې مې هم همدا فساد وليد، د ترانسپورټ په دفتر کې ډريور د پنځوسو روپو پرځای شل روپۍ ورکړی او رسيد يې ترينه وانخست، پوښتنه مې وکړه چې رسيد دې ولې وانخست؟ راته يې وويل که رسيد ترينه وغواړم نو بيا بايد د پنځوسو لوټ ورکړم، دا شل روپۍ دهغه شخصي جيب ته ځي، دهغه کار هم کېږي او زما هم، هغه شل روپۍ ګټه وکړه او ما ډيرش، دهغه ددغې خبرې په ځواب کې مې وويل: آيا دا له خپل هېواد او ولس سره خيانت نه دی؟ راته يې وويل: د حکومت په خيانت کې خلک څه ملامت دي، دا خو د حکومت کار دی چې د رشوت مخه ونيسي، که هغه له موږ نه رشوت وانخلي نو پر موږ کوم ځندا پښه ايښې چې رشوت ورکړو؟ موږ په دې خبره ښه پوهېږو چې دا ښه کار نه دی خو څه وکړو مجبور يو، حکومت داسې حالات برابروي چې موږ رشوت ورکولو ته اړ شو، تا د عربو دا متل نه دی اوريدلی چې وايي: خلک د خپلو چارواکو په دين باندې روانېږي که په حکومت کې رشوت خوري نه وي نو رعيت به هم رشوت نه ورکوي، که حکومت په ټولو ادارو کې شفافيت راولي نو ولس به هم خپل کارونه له رشوت ورکولو نه پرته پرمخ وړي، له بده مرغه دلته داسې حالت مسلط شوې چې خلک به ډ خپل حق د ترلاسه کولو لپاره هم رشوت ورکوي.

ما ورته وويل: وروره په دې خبرو ځان نه شو خلاصولې، که ولس ايمانداره شي او د رشوت له ورکولو نه انکار وکړي نو د دولت چارواکي به د چا چا په لاسو کې زنځيرونه واچوي تا نه دي اوريدلي چې د ولس زور د خدای زور دی؟ هغه راته وويل: وروره! ته ډېر زوره ور يې، پخپلو خبرو ټينګار کوې ښه به دا وي چې په دې خبره کانې کېږدو او ددې پرځای په نورو خبرو وغږېږو. ما هم خوله بنده کړه او يو ساعت لپاره په فکر کې پريوتم او له ځان سره مې وويل: که زموږ د حکومت او ولس دا حال وي نو سمون به څوک راولي؟

د نړیوال نظامي ائتلاف
د جنګي جنایتونو څېړنه

دوکتور م ، عثمان تره کي

د شوروي د امپراتورۍ له ړنګېدو او د نړۍ له یو قطبي کېدو نه وروسته د امریکا پر وړاندې مقابله وزنه له منځه لاړه. نړۍ د امریکا د ستراتیژیکو لوبو په میدان بدله شوه. افغانستان او عراق د قدرت د وېشلو د نوي نظام د تشخص د لابراتوار حیثیت ومونده. په لابراتوار کې د کیمیاوي وسلې نه نیولې تر پرمختللې حربي تکنولوژۍ پورې حیرانوونکي تولیدات، "میراژ" او "آواکس" الوتکې وآزمایل شول. نړیوالو قوانینو او بشري حقونو ته درناوی د لابراتوار د فزیکي قوانینو تر اغیز لاندې حاشیې ته ولوید. له افغانانو سره د لابراتوار د موږک په حیث چلند وشو. د دیموکراسۍ تر پلمې لاندې بې شمیره جنایتونه ترسره شول. او ټول د ملګرو ملتونو تر بیرغ لاندې .

بشري حقونه او د جګړې قوانین د لویدیزو هیوادونو د خپلمنځي اړیکو او معاملاتو زېږنده دي. د تاریخ په اوږدو کې نړیوال قوانین د کانوانسیونونو په چوکاټ کې راجستر، تسجیل او تشریع (مشروعیت ورپه برخه کول) شوي دي .

د نړۍ په کچه د زورواکانو د برلاسي له امله نړیوال حقوقي نظام پدې نه دی بریالی شوی چې د جګړې مخه ونیسي . خو که انسانان جګړه بندولی نشي هغه ته باید د څارویو د جګړې د توپیر په موخه تر لږه د مضبوطو قوانینو د لارې انساني بڼه ورکړي . د جګړې قوانین د همدغه مقصد د پاره تنظیم شویدي .

د افغانستان په جګړه کې سره له دې چې لویدیزوال د جګړې د نړیوالو کانوانسیونونو د یو اړخ په توګه ونده لري چې د جګړې قواعدو ته درناوی ولري ، خو برعکس یې له هغو نه په سرغړونې سره تاریخي "ریکارډ" په ځای ایښی دی .

د جګړې د قوانینو د سرغړونې بهترین مثال په کلیو او بانډو باندې د ناټو هوائي بریدونه دي چې په ترڅ کې یې په زرګونو ملکیان وژل شوي یا ژوبل شوي دي او عامه شتمنیو ته تاوان رسیدلی دی .

د ناټو ګڼ شمیر جنګي عملیات له مخالفینو نه د غچ اخیستنې په مقصد ترسره شوي دي، چې د جګړې په حالت کې ورته له کنټرول نه وتلې حیواني غریزې ویلې شو. دلته څېړه له جنایت نه تېره ده. سناریو داسې پیلیږي:

په یوه کلي کې د وسله وال مقاومت دوه کسان د بهرنیو قوتونو په قطار باندې ډزې کوي . دواړه له معرکې نه تښتي. یو ساعت وروسته د دغه واقعیت په نظر کې نیولو سره چې برید کوونکو د سیمې نه لرې مصئون ځای ته پناه وړې؛ کلی په بشپړه توګه تر هوایي ګوزارونو لاندې نیول کېږي. په سلګونو ملکیان ژوند له لاسه ورکوي . دغه ارادي او پلان شوی جنایت یوه موخه لري : کلیوال دیته اړ شي چه د کلي په کچه د ناټو د بمباریو له ویرې نه د وسله والو مخالفینو د راتګ او عملیاتو مخه ونیسي .

احمد شاه د پنجوائي اوسېدونکی پژواک خبري آژانس ته وايي : ... درې ورځې مخکې د زنګ آباد په څلور لارې کې یو شمیر بهرني فوځیان د یوې چاودنې په پېښه کې ووژل شول. د پېښې نه وروسته یو شمیر بهرنیو صاحب منصبانو ، قومي مشران یوې غونډې ته راوبلل. په غونډه کې بهرنیانو د غونډې ګډونوالو ته وویل : که د چاودنې عاملین راپیدا نکړئ د هغې غچ به ستاسو له ښځو او ماشومانو نه اخلو... سبایې "رابرټ بالس" د شپې په تیاره کې له خپلو ملګرو سره د ملکیانو پر کورونو باندې برید وکړ چې په کې ۲۵ تنه شهیدان او پنځه تنه زخمیان شول (د مارچ ۱۲، ۲۰۱۲م کال)

همدا اوس امریکا د "رابرټ بالس" جنایت ، د "سیاسي ترمامیتر" په بڼه کاروي: کله چې د یو نوي جنایت پام باید بلې خواته واړول شي یا کله چه اړتیا احساس شي چې باید د جګړې اصولیت او عدالت غوښتونکی اړخ نمایش ته کېښودل شي (د مثال په توګه د وسله والو مخالفینو سره د خبرو اترو په بهیر کې)، امریکایي چارواکي د "رابرټ بالس" محاکمه تر لاس لاندې نیسي. دا احتمال شته چې نوموړي ته د کاذب ادعا تر پیلګې لاندې د لیونۍ په حیث برائت ورکړل شي.

د "وړیا جنایت ستراتیژي" د "رابرټ بالس" په دوسیه باندې ایسار نه پاتې کیږي: په یوه لسیزه کې د عزیزآباد (هرات) نه نیولې تر کونړ او د هلمند نه نیولې تر کندوز او دشت لیلي پورې(۳۰۰۰زره شهیدان) اټکل نیم ملیون بیګناه افغانان د یوه رذیلانه او ماجراجویانه جګړې قربانی شوي دي .

په افغانستان کې سوله او سیاسي ثبات او د نړیوال نظامي ائتلاف د غړیو (او په ځانګړې توګه امریکا) سره نورمالې اړیکې هغه وخت تأمینیدای شي چې وړیا جنایتونو ته رسیدګي وشي . یعنې حق خپل طبیعي ځای ونیسي.

د همدغه مقصد د پاره باید له افغانستان نه د بهرنیو خواکونو تر وتلو مخکې د ملګرو ملتونو په سروالي د جنایتونو د څېړنې یو کمیسون جوړ شي. د څېړنې په کمسیون کې نړیوال سور صلیب ، د ملګرو ملتونو د بشر د حقونو کمیسون ، د اروپا د اتحادیې د بشر ي حقونو کمسیون او په جګړه کې ښکېلې ناپېیلې هیوادونه ګډون درلودلای شي .

د تاریخي تجربې په نظر کې نیولو سره (د ویتنام مثال) افغانستان به هیڅکله دومره پیاوړتیا ترلاسه نکړي چه اشغالګر خواکونه دیته اړ کړي چې افغانانو ته د یرغلیزې جګړې تاوان ورکړي: خو د ټینګ احتمال له مخې به په جګړه کې دخیل هیوادونه افغانستان له خپلې اوږدمهالې اقتصادي مرستې نه بې برخې نکړي .

که موږ په افغانستان کې د بهرنیانو د جنایتونو یوه دوسیه ځان سره ونلرو ، د دوی مرستې د "خیرات" په بڼه مطرح کیږي . خیرات زموږ ملي غرور تر سوال لاندې راوړي او د اوسنې مقاومت د جګړې د منطق سره په تقابل کې واقع کیږي. د جنایتونو د دوسیې په درلودلو سره ، مرستې د شهیدانو د "وینې بیه" (خون بها) او د "جګړې تاوان" په ډول یعنې د یو "حق" په توګه (سره له دې چې د یرغلګرو قوتونو له خوا نه پیرندل شي) به رامنځته شي .

د بهرنیانو د جنګي جنایتونو په اړوند د دوسیې تنظیم د قطر د مذاکراتو په اجندا کې باید ځانګړی ځای ولري.

تاریخ سازه سیمه او سپین سترګي ګاونډي

(د لومړی مخ پاتې برخه)

ګوشتې ولسوالي یوه سرحدي ولسوالي ده چې ختیځ ته قبایلي سیمې ګندهاب او غلنۍ، لویدیځ ته یې د کامې ولسوالي، جنوب ته یې مومندرې او لعلپورې ولسوالۍ پرتې دي چې زموږ ډېر سیاستوال او حتی لوړ پوړي چارواکي د دې سیمې له جغرافیایي موقیعت او پکې د میشتو قومونو ناخبره دي. پدې سیمه کې د ښنتو یو لوی ټبر مومند پروت دی چې له همدې کبله دې ټولې سیمې ته (کامې ، ګوشتې، مومندرې، لعلپورې، ګوټ او ښې کوټ) ته مومند دره وایي، او مومندره ورته ځکه وایي چې د دې سیمې زیاتره اوسیدونکي مومند دي او د مومندو لوی قومونه لکه خویزي، بایزي، کوډاخیل، اتمرخیل او نور دمومندو خیلونه دلته اباد دي. دا هغه سیمه ده چې دهیواد په تاریخ کې یې ستر او مبارز شخصیتونه ټولنې ته وړاندې کړي، لکه ایمل خان مومند، چکنور ملا صیب، مولانا مراد علي کاموي ، نجم الدین اخندزاده ، محمد موسی شفیق او په سلګونو او زرګونو نور ملي او علمي شخصیتونه چې دوخت او زمان هر جابر او سرکش یرغلګر نه د دې خاورې او خلکو دفاع اوساتنه کړې، که دتاریخ پاڼې راواړو نو په یولسمه صدی کې چې پدې سیمه کې د مغل حکمراني وه او له هنده تر اصفهانه یې د واک ترانې غږیدې او ننی کابل هم دمغلي حکومت یوه برخه وه، نو دهمدې مومندرې اوسیدونکو دایمل خان مومند په مشرۍ دمغلو فوځونه په همدې ځاپښ کې تار و مار کړل په زرګونو مغل عسکري ووژل او په سلګونو اوښانو او فیلانو بار سامانونه یې ترې غنیمت کړل چې خبره راه اوږده نه شي نو راځم اصلي موضوع ته.

دا سیمه چې نن پکې جنګ دې اوپاکستان پکې نظامي ځایونه او دروازه جوړه کړې دا دافغانستان خاوره ده بلکې تردې ډیر وړاندې هم زموږ دهیواد خاوره ده اوپکې افغانان اوسیږي ګوشته خو دافغانستان یوه ولسوالي ده له ګوشتي پورې دغه سیمه چې ښاپښ کنډو ورته وايي له ګوشتي ولسوالی سره ۲۵ کیلو متره فاصله لري. په دغه ځمکه کې د مومند ومختلف خیلونه اباد دي چې دافغانستان تذکرې لري او په دولت کې په رسمي دندو بوخت و اوځواکانو به یې د خوشال خان، رحمن بابا او د ننګرهار د قبایلو په لبو کې زده کړې کولې.او د پاکستان ملېشه به له ګنداوه اخوا په غلتی کې پرته وه له ښاپښ نه تر ګنداهابه ، دغه ۴۵ کیلو متره سیمه یوه ازاده سیمه و، چې د افغانستان او پاکستان تر منځ د قبایلو په نامه وه او د پاکستان به کې هیڅ اثر هم نه و. د افغانستان حکومت او سیاسي شنونکي چې اصلا دسیمې له اراضي سره نا اشنانه دي له ځانه وړاندوینې کوي اواکثره تحلیلونه یې پر اټکل اوناخبرۍ ولاړ دي دوی نه ګوشته اونه دمومندو نورې سیمې لیدلي خو بس لګیاوي یوه ډله یې د ګوشتې د دروازې په هکله احساساتي خبرې کوي اووړاندوینې کوي، او بله ډله یې بیا دا سیمه دپاکستان ګڼي داهغه ډله ده چې اصلا دافغانستان له نامه سره مخالف دي دافغانستان له پولي واحد افغاني سره مخالف دي دوي فکر کوي چې ریښتیا به ګڼې هم اټک ونیسي او بیا به نورې خبرې شروع شي خو زه دوی ته داد ورکوم چې تاسو فکر مه کوئ داخو ستاسو دښاغلو مشرانو دبټو ملاقاتونو برکت دی چې نن به ګوشته راخیژي داخو د دوی او تاجکستان دملاقاتونو برکت و نو تاسو مه ویریږئ هیڅ هم نشته تاسو خوراسره داشته افغانستان هم ته منۍ نو ښاپښ اوګوشته خو دې سر وخوري . او موږ هم نه پردوی ګوشته ګټوونه ښاپښ خو افسوس پرهغو ښاغلو چې ځانونه د دې خاورې وارثین ګڼي هغوې هم پردې نه دي خبر چې دافغانستان خاوره تر کومه ځایه ده ازاد قبایل کومو سیموته وایي د دې سیمې تاریخي او ستراتیژیک اهمیت په څه کې دی دوی هم دګوشتې خبره کوي خو د هغه ۴۵ کیلومتره خاورې په کیسه کې هم نه دي چې تر پرونه پکې زموږ دجهاد اومبارزې سنګرونه وو په ښاپښ ګوسړی صاحب کوهي اومزرې چینه اوزیارت ډاک کې دروسانو دتجاوز پروخت دافغان مجاهدینو د جهاد مرکزونه وو اوله همدې ځایه به یې د روسانو اودهغو دګوډاګي حکومت پرضد وسلواله مبارزه کوله هغه مهال پدې سیمه کې دپاکستان د دولت هیڅ اثرنه و اونه ورته دسیمې اوسیدونکو د نظامي حرکتونو اجازه ورکوله اوداخبره ټولوته معلومه ده نو زما هیله له سیاسي اونظامي مبصرینو او چارواکو داده چې د دې علاقې دتاریخي او جغرافیایي شالید او اهمیت نه ځان خبر کړي ځکه چې د ښاپښ کنډو هغه تاریخي ځای دی چې افغانانو پکې د خپلواکی په جنګ کې انګریزانو ته او تر هغې وړاندې د ایمل ځان مومند په مشرۍ افغانانو مغلي لښکرو ته ماتې ورکړې وه.

دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خبرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسوول مدیر عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمیرې
دفتر ۰۲۰۲۵۷۱۲۳۲
مسوول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه ستردیږي، بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین خواجه وحیدالله | آدرس د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب نظر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

د مالیې وزیر باید کره اسناد ...

او د نشه یي توکیو په قاچاق کې لاس لري په مشرانو جرګې کې بیلا بیل غبرګونونه را پارولي دي.

د مشرانو جرګې ځینې غړي وایي چې د مالیې وزیر ډاکټرحضرت عمرزاخیلوال باید د خپلودې څرګندونو په اړه کره اسناد دوی ته وړاندې کړي.

د دې جرګې د سې شنبې ورځې په عمومي غونډه کې سناتورانو تردیره پرهمدې مسالې بحثونه وکړل.

د مشرانو جرګې غړي هدایت الله رهایی د مالیې د وزیر تورونه ناسم او بې اساسه وبلل او ویې ویل چې ډاکټر زاخیلوال باید په دې اړه شواهد وړاندې کړي:

" د مالیې د وزیر خبرې چې ویلي یې دي د ملي شورا یوشمیر غړي په فساد کې لاس لري او په رسنیو کې په دې اړه خبرې کیږي باید شواهد ولري او د وکیلانو او سناتورانو نومونه څرګند کړي.

دا چې په رسنیو کې په دې اړه ګونګې خبرې کیږي دا د مقننه قوې د یوې برخې د رنګه بده کولو لامل ګرځي".

د مالیې وزیر حضرت عمر زاخیلوال د دوشنبې په ورځ په کابل کې خبریالانوته وویل چې په ملي شورا کې یوه وړه کړی په فساد او د مخدرو موادو په قاچاق کې لاس لري.

ډاکټرزاخیلوال که څه هم د کوم وکیل یا سناتور نوم وانه خیست خو څرګنده یې کړه چې د ملي شورا دا غړي د دې وزارت په چارو کې مداخله کوي او پرده او د دې وزارت په پر یوشمیر نورو چارواکو په نا حقه فشار اچوي.

د مشرانو جرګې ځینې غړي هم د مالیې د وزیر دا څرګندونې سمې بولي او وایی چې په ملي شورا کې هم د حکومتي ادارو په څیر فساد اوج ته رسیدلی دی.

د مشرانو جرګې غړې بلقیس روشن په دې اړه وویل: "لکه څنګه چې په حکومت کې فساد شته همداسې د ملي شورا په دواړو جرګو کې هم شته.

نن په مشرانو جرګې کې له یوسل او دوه تنو سناتورانوڅخه یوازې څلویښت تنه یې حاضر دي،داسې به فکر وکړو چې شل تنه یې ګوښتي ولسوالی ته تللي نوریې چیرې دی.

آیا ټول مړه شوي او که د خپلو شخصي معاملو او سوداګریو پسې روان دي.

کوم وزیران چې جرأت کوي او د دوي په اړه واقعیتونه وایي مونږ باید کوښښ وکړو چې د افشا کولو لپاره یې له هغوی سره مرسته وکړو".

د مالیې له وزیر وړاندې د کورنیو چارو وزیر جنرال مجتبی پتنګ هم څرګنده کړې وه چې په څلورو میاشتو کې ده ته څه باندې پنځلس زره عریضې د ملي شورا د یوشمیر غړو لخوا ور رسیدلي دي.

د ولسې جرګې غړو له همدې امله تیره اونۍ د کورنیو چارو وزیر خپلې استجوابیه غونډې ته وغوښت خو جنرال پتنګ پکې برخه وانه خیسته او وکیلانو په نږدې راتلونکې کې د هغه د استیضاح کولو پریکړه وکړه.

سره له دې چې ولسې جرګې تراوسه د مالیې د وزیر د دې څرګندونو په اړه څه نه دي ویلي خو د مشرانو جرګې اداري پلاوې ویلي چې ډیر ژر به د مالیې وزیر ډاکټر زاخیلوال د هغه د وروستیو څرګندونو په اړه دې جرګې ته د ځواب ورکولو لپاره وغواړي.

شاګردانی که بی مورد ادعای ...

این که شفاخانه به اثبات نرساند که مسمومیت است من هم متعلم را مجازات می کنم هم معلم و مدیر مکتب را مجازات می نمایم.

اگر توسط کارمند معارف این چنین مسمومیت های تقلبی به وجود می آید، این هم از تروریزم کم نیست به خاطریکه بالای مورال ملت ما تاثیرات منفی دارد."

در آخرین مورد از مسمومیت شاگردان در افغانستان چهارشنبه گذشته از مسموم شدن شماری از شاگردان لیسه سلطان راضیه در کابل خبر داده شد.

بعضی از مقام های وزارت معارف افغانستان قبلاً گفته بودند که دشمنان معارف این کشور در عقب مسمومیت شاگردان قرار دارند.

آقای وردک در این مورد به روز سه شنبه در کابل در مراسم امضای تفاهمنامه اعمار ۷۰ مکتب صحبت کرد.

وی گفت که این مکاتب در ولایت های بامیان، دایکندی و غور ظرف دو سال آینده به مصرف ۲۵ ملیون دالر کمک جاپان اعمار خواهد شد.

"گر چه در قرار داد با ایشان هفتاد مکتب داریم ولی با صرفه جویی که انشاالله خواهیم داشت هفتاد و پنج مکتب را باز که مدیریت پولی آن را یونسیف می کند، پول را کشور دوست ما جاپان می پردازد و اجراآت آن را صد در صد ما می کنیم، اعمار می نماییم."

جاپان پیش از این هم به بخش معارف در افغانستان مساعدت کرده است.

به اساس معلومات وزارت معارف، از سال ۲۰۰۹ به این سو ۵۱ مکتب به ارزش ۲۴ ملیون دالر کمک مالی جاپان در کابل اعمار شده است.

سفیر جاپان در افغانستان در این مراسم اطمینان داد که کمک های کشورش به بخش معارف در افغانستان هم چنان ادامه خواهد داشت.

نبود تعمیر برای مکاتب در افغانستان از مشکلاتی به حساب می آید که نظام معارف این کشور به آن رو به رو اند.

این مساله سبب شده است که شاگردان در بعضی از مکاتب در داخل خیمه و یا زیر آفتاب سوزان درس بخوانند.

قاچاقبران اکثراً دربیرون...

...وی که دیروز در مراسم به آتش کشیدن مواد مخدر در ولایت تخار صحبت میکرد، افزود که سال گذشته ازمیان ۱۰ قاچاقبر مهمی که زیرپلان بود، توانستند ۸ تن آنان را دستگیر کنند.

احمدی باآنکه میزان کشت، قاچاق وترافیک موادمخدررا نسبت به سالهای قبل درحال کاهش خواند؛ اما گفت که درسفربعدی، درتخریب مزارع کوکنار به اساس اطلاعات اقدام خواهند کرد.

مل پاسوال خیرمحمد تیمورقوماندان امنیه تخار میگوید که موادمخدر به آتش کشیده شده، شامل بیش از ۹۸۰ کیلو تریاک، ۱۳۰ کیلو هیروئین، ۱۷۰ کیلو چرس ۳۴۰ لیترتیزاب و ۱۵۰ لیترمشروبات الکولی بود که در عملیات از مناطق مختلف این ولایت به دست آمده و در پیوند به قاچاق آن، ده ها تن بازداشت گردیده اند.

احمد فیصل بیکزاد والی تخاردر مراسم حریق مواد مخدر گفت که تخار، از شش سال بدینسو از حیث کشت کوکنار، صفر شده وباید ازسوی وزارت درین راستا پروژه های زیربنایی راه اندازی شود.

وی افزود که در این مدت، وزارت مبارزه باموادمخدرسالانه یک ملیون دالربه تخار به حیث اجراآت خوب در محو کشت کوکنار کمک نموده و امید است که این کمکها ادامه یابد. تخار با تاجکستان سرحد دارد و مسوولان محلی میگویند که موادمخدر از ولایات همجوار و از طریق این ولایت به آن کشور قاچاق میشود.

در زمستان گذشته دو قاچاقچی مواد مخدر در ولسوالی دشت قلعهٔ تخار در سرحد با تاجکستان توسط محافظان سرحدی تاجکستان به قتل رسید.

گفتنی است که معین مبارزه با مواد مخدر وزارت داخله، درسفری که دو روز قبل به ولایت بغلان داشت، در وقت حریق دونیم تن مواد مخدر گفت که وزارت داخله با تمام قوت مانع کشت کوکنار خواهد شد.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

په افغانستان کې لاهم د سولې څرک نه لږېږي

فارن پالیسي خپرونې په خپله وروستي ګڼه کې په افغانستان کې د امنیتي پیښو د لړی موضوع خپرلې ده.

خپرونه لیکي: د افغانستان له جګړې تقریباً دولس کاله تیریږي خو تر اوسه پورې په دغه هېواد کې د سولې څرک نه لږېږي.

فارن پالیسي لیکي:

افغانستان یو وروستي پاتې هېواد دی، چې اکثره بنسټیز تاسیسات یې جګړو له منځه وړي.

د مطلب لیکونکې وایي، دا ښکاره ده چې د طالبانو مشرتابه اوس هم د پاکستان د پوځ او استخباراتو له ملاتړ برمخته ده اود هغوي د دوامداره مالي ملاتړ او تجهیز پرته به ونشي کولی چې په افغانستان کې نفوذ ولري.

د فارن پالیسي په وینا دریمه مساله دا ده، چې افغانستان د تروریزم او مخدر موادو د قاچاق له ستونزو سره چې دا هیواد یې کمزوری کړی دی مخامخ دی.

خپرونې د افغانستان څلورمه ستونزه نا امني بللې او زیاتوي چې په افغانستان زیات شمیر هیوادونه حضور او جلا ستراتیژي لري چې دې مسلې په خپلو کې او له افغان حکومت سره د هغوي همغږي زیانمنه کړې ده.

فارن پالیسي خپرونې لیکلي: په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې په ملکي او پوځي چارو کې د همغږۍ نشتوالي افغان حکومت ناتوانه کړی او نشي کولی چې د خپلو خلکو لپاره د لومړنیو خدماتو د برابرولو لپاره نه ظرفیت او نه هم منابع ولري.

فارن پالیسي خپرونې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د نوي ځانګړي استازي ددې څرګندونو په اړه یو مطلب خپور کړی چې ویلي وو که د سولې موافقه ونشي له ۲۰۱۴ کال وروسته هم په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو شتون ته اړتیا ده.

فارن پالیسي خپرونې لیکلي: د کابل او اسلام اباد لپاره د امریکا نوي استازي جیمز ډبینز په ۲۰۱۱ م کال له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو لپآره په افغانستان کې د سولې د یوې موافقې پر اهمیت یو سل مخیځه څیړنیز راپور خپور کړ.

په دغه راپور کې چې عنوان یې دی (د افغانستان د سولې خبرې) جیمز ډابینز شک څرګند کړی چې د سولې د یوې موافقې پرته به ولسمشر بارک اوباما توانیږي چې له ۲۰۱۴ کال کې په افغانستان کې جګړې ته د پای ټکی کیږدي.

د مقالې لیکونکی وایي هغه څه چې اوس مونږ پرې پوهیږو او ښایي جیمز ډبینز یا بل څوک پرې مخکې نه پوهیدل، دادي چې د افغانستان د سولې خبرو هیڅ نتیجه نه ده ور کړې.

طالبانو تیره چهارشنبه د سولې د عالي شورا یو بل لوړ رتبه غړی ترور کړ،په قطر کې د سولې خبرې په ټپه ولاړې دي، او د افغانستان د سولې په پروسه کې د پاکستان د همکاری درک هم نه لږیږي.

فارن پالیسي زیاتوي: اوس دا خبره پټه نه ده پاتې چې له ۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کې امریکایي ځواکونه پاتې کیږي،خو پوښتنه داده چې څومره سرتیري به پاتې کیږي او ماموریت به یې څه وي؟

کرزی وایي لوېدیځ د ترهګری په ...

ولسمشر حامد کرزي ویلي د ناټو او بهرنیو ځواکونو د وتلو په درشل کې بیا هم ترهګري د دغه هېواد د پرمختګ لاره نیول غواړي، چې په وینا یې ترهګر به له پاکستانه راځي، دلته به چاودنې کوي او نا امني به پراخول غواړي.

ولسمشر یو ځل بیا د لوېدیځوالو پر ترهګری ضد جګړه نیوکه کړې او ویلي یې دي چې دا جګړه نه پخوا په سمه توګه پر مخ بیول شوې، او نه اوس پر سم تګلوري روانه ده.

ښاغلي کرزي ویلي په دغه جګړه کې د ترهګرو خوندي خالو او د ترهګری د انګېزو لاملو ته پام و نه شو او د افغانستان په کلیو کې روانه وسائل شوه.

ولسمشر سولې ته هیله څرګنده کړې خو ویلي یې دي چې په دې برخه کې د پاکستان ښکېلتیا ته اړتیا لیدل کیږي او دا چاره باید تر سره شي.

د نوموړي په وینا پرته د جوړجاړې له بهیره به هم د تېرولسو کلونو په څېر افغانستان پرمختګ کوي خو تنګوني به ولري.

د افغان ولسمشر په وینا طالبان دومره ځواکمن هم نه دي، چې د هېواد د پرمختګ روان بهیر ودروي.

هغه پر لوېدیځو رسنیو نیوکه کړې چې ګواکې د افغانستان حقیتونه هسې نه بیانوي چې څنګه دي.

دا ګک د وینا پاتې له مخې ولسمشر حامد کرزي دا څرګندونې د ډنمارک هېواد یوه تلویزوني چینل ته کړې دي.

افغان ولسمشر داسې مهال پر پاکستان نیوکې کړې چې له هغه هېواد سره د سرحدي شخړو له کبله د دواړو غاړو اړیکې د پخوا په پرتله یو څه ترینګلې شوې دي.

حملات اسراییل بر سوریه ...

روز یکشنبه او بشار الاسد را قصاب خطاب کرده بود. اردوغان یک بار دیگر از جامعه جهانی خواست که بر ضد کشتار ها توسط قوای رژیم سوریه حرکت کنند.

حملات اسراییل بر محلات نظامی سوریه در روز های جمعه و یکشنبه تشنج منطقوی را افزایش داده است.

این حملات قرار معلوم سلاح های را هدف قرار داده بود که از ایران به حزب الله لبنان ارسال شده بودند.

گروه تندرو حزب الله یک متحد سوریه بوده و اسراییل آن را تهدید بزرگ به خود می داند.

گروها را تشویق می کنیم که ...

در این بخش حکومت افغانستان را همکاری نماید.

" ما گروها را تشویق می کنیم که با هم صحبت و مذاکره نمایند و این برای جامعه جهانی بسیار مهم است، آنها می توانند سهولت ها را مانند تامین امنیت محلی که این گروها با هم ملاقات می کنند مساعد بسازد، اگر جامعه جهانی در مورد رهبری این مذاکرات نگران اند، یگانه و یگانه مرجعه که می تواند این کار را پیش ببرد سازمان ملل متحد است، اما افغان ها باید رهبری این مذاکرات را در دست داشته باشند، جامعه جهانی و سازمان ملل متحد می توانند همکار باشند در این زمینه."

حکومت افغانستان از چند سال به این طرف تلاش ها را به هدف گفتگو با مخالفین مسلح و کشانیدن پای آنان به میز مذاکره آغاز کرده است. اما گفته می شود که عدم همکاری صادقانه پاکستان در این پروسه، تلاش های حکومت افغانستان نتیجهء چندان در پی نداشته است.

مقام های افغان همواره پاکستان را متهم به سنگ اندازی در راستای این پروسه کرده است. حتی چندی قبل معین سیاسی وزارت خارجهء افغانستان گفت که پس از این تلاش های صلح با مخالفین مسلح را بدون همکاری پاکستان به پیش می برند.

اما نمایندهء ارشد ملکی ناتو می گوید که طی سال های گذشته پاکستان نقش خوبی را در تلاش های صلح افغانستان داشته و هنوز هم امیدواری زیادی وجود دارد که آن کشور به تلاش های ادامه بدهد. وی به عنوان مثال گفت که مقام های بلند پایه افغانستان، پاکستان و ایالات متحده امریکا در ماه گذشته میلادی در بروکسل به هم دیدار داشتند و در آنجا هردوطرف دراین زمینه تعهدات داشتند.

اما برخی از منابع در حکومت افغانستان گفته است که در آن نشست مقام های پاکستانی با لحن تند و تهدید آمیز با رییس جمهور کرزی صحبت کردند و نشست یاد شده نتایج چند در پی نداشته است. پس از گذشت چند روز از برگزار این نشست، نظامیان افغان و پاکستان در ولسوالی گوشته ننگرهار در امتداد خط دیورند دو بار با هم درگیری شدند. این درگیری ها تلفات جانی هم در پی داشت.

در این حال آقای یوخمس می گوید که جنگ و درگیری در امتداد خط دیورند راه حل مشکلات افغانستان و پاکستان نیست. به باور وی باید مقام های دو کشور از راه دیپلوماتیک و گفتگوهای رو در رو مشکلات مرزی را حل نمایند. آقای یوخمس در پاسخ به یک سوال رادیو آزادی در مورد نقش ناتو به هنگام درگیری های مرزی میان افغانستان و پاکستان، گفت:

" در قدم نخست من مطمین نیستم که راه نظامی راه مناسب در این خصوص باشد و قسمی که شما میدانید ماموریت ناتو در افغانستان محدود است، اگر خوشبختانه می گویید و یا بدبختانه حقیقت همین است که ناتو به اساس ماموریت که از سوی سازمان ملل متحد برایش داده شده، کار می کند."